**بسم الله الرحمن الرحيم**

## لویدیځ د خلافت د تاسیس په اړه!

لورد کورزون د بریتانیا د بهرنیو چارو وزیر، چې د نوموړي د دندې پر مهال خلافت ونړول شو، وویل: «موږ نور د ترکیې مخه ونیوله او له دې وروسته به بیا هېڅکله هم خپل حال ته راونه ګرځي. ځکه چې موږ د دوی ځواک او توان ونړاوه او دغه قدرت په دوو څیزونو کې نغښتی و، لومړی اسلام او دویم خلافت.»

تېر شل کلونه د مسلمانانو لپاره داسې وو، چې د اسلام، مسلمانانو او پانګوالو هېوادونو تر منځ سیالیو پکې زور واخیست. دا ځکه چې په تېرو لسیزو کې اسلامي امت یوازې په ایدیولوژیک، روحي او فکري معلوماتو کې پلټنه کوله. که له ۱۹۹۰-۲۰۰۰ کلونو ته پام وکړو نو د اسلام مبلغینو او نورو ډلو تر منځ د خلافت د بیا تاسیس د فرضیت په اړه بحثونه کېدل. اوس له شریعت څخه د سم درک وروسته، نه دا چې یوازې د خلافت بیا تاسیس د فرضیت په هکله خبرې کوي، بلکې په دې اړه هم بحث کوي، چې د خلافت بیا تاسیس باید د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تګلاره وي. نور د ځینو اسلامي ډلو او عالمانو تر منځ د امت یووالي پر سر کوم شک نشته. دغه موضوع یو ځل بیا په اسلامي نړۍ کې په پراخه کچه د پام وړ ګرځېدلې، ځکه مسلمانانو پرېکړه کړې ده، چې یو ځل بیا په نړیواله کچه خلافت تاسیس کړي.

له بده مرغه اوس هم ځینې مسلمانان د سېکولرېزم او ډېموکراسۍ په ناوړه، درواغجنو او د روشنفکرۍ په پلیتو مفکورو باورمند دي او د اسلامي خلافت په بیا راتګ او د هغه په روښانه راتلونکي شک لري، په دې باور نه لري، چې هغه دولت به یو ځل بیا اسلام په ټوله نړۍ کې حاکموي او عدالت به پکې رامنځته کوي. دغه راز د خلکو پام به ځانته راواړوي او د دوی ستونزې به بنیادي او له بشریت سره په همغږۍ حل کړي. د خلافت د بیا راتګ په اړه د دوی ګومانونه بېلابېل دلایل لري، لکه دوی وایي، چې دغه د مدیریت سیستم پخوانی او له وخته تېر دی، اوس په نوي عصر کې نه شي کولای، چې د بشر ستونزې حل کړي. مسلمانان کمزوري دي او نه شي کولای چې دا ډول پروژې عملي کړي. دا ډېموکراسي او ازادي ګانې یې نن ورځ ستونزې په ښه ډول حل کوي.

په داسې حال کې چې اوسمهال ټوله نړۍ د مسلمانانو او اسلام د بیا حاکمیت پر وړاندې یو موټی ده او د دوی ایډیولوژي جوړوونکي د نړۍ په کچه د اسلامي دولت د بیا راتګ د مخنیوي په اړه په ډاګه خبرې کوي. خو د دې برعکس زیاتره مسلمانان د اسلام په بیا حاکمیت باندې ایمان او باور لري او د حاکمېدو لپاره یې په چټکۍ سره هلې ځلې روانې کړې دي.

لاندې به زه ستاسو محترم حضور ته د اوسنيو لويديځو رهبرانو او د دوی د ايديولوژي جوړوونکو ځينې راپورونه، څېړنې، بيانونه او تشويشونه د خلافت د بيا راتگ په هکله وړاندې کړم.

**لومړی:** ويلادميرپوتين؛ د روسيې ولسمشر په ۲۰۰۲م، کې وويل: نړيوال تروريزم به د روسيې پر وړاندې جنگ اعلان کړي او د اسلامي دولت (خلافت) په تاسيس سره به له پاشل شويو هېوادونو څخه يو واحد دولت رامنځ ته کړي. نوموړي دغه خبرې په داسې حال کې وکړې، چې له تلويزيون سره يې په ژوندۍ بڼه د روسيې له دوو ميليونو خلکو څخه ۵۰ پوښتنو ته ځوابونه ورکاوه.

**دويم:** هنري کېسېنجر د ۲۰۰۴م، د نومبر په ٦مه په هند کې د هندوستان ټايمز په دويم کنفرانس کې پوځي مشرانو ته په وينا کې وويل: له داسې تروريزم وېره نه ده پکار، لکه څنگه مو چې د ۲۰۱۱م، د سپټمبر په مياشت کې وليدل؛ بلکې خطر له بنيادي او افراطي اسلام څخه پکار دی، ځکه بنيادي مسلمانان معتدل مسلمانان نه خوښوي او بنيادگرايان غواړي، تر څو معتدل اسلام له منځه يوسي او د اسلامي دولت (خلافت) له لارې اسلام تطبيق کړي.

**درېيم:** د ۲۰۰۵م، د جنوري په ۱۵مه د  الحيات په نوم ورځ پاڼې يو راپور خپور کړ، چې د امريکا د رويټرز اژانس له خوا چاپ شوی و، په دغه راپور کې د نړۍ د پنځو لويو وچو د زرگونو متخصيصينو تر منځ د جلسې په اړه ليکل شوي و، چې تر ۲۰۲۰م، پورې د سناريو په هکله يې خبرې اترې او وړاندوېنې يې کړې وې. د راپور موخه دا وه چې تر څو له استخباراتي چارواکو او پاليسي جوړوونکو سره مرسته وکړي او دوی وکولای شي په راتلونکو کلونو کې د مخالفتونو مخنيوی وکړي. له راپور ښکاري چې بايد تروريستي بريدونو ته په تمه واوسو. ياد راپور څلورو مهمو سناريوگانو ته اشاره کړې وه چې يوه يې په نړۍ کې د ځينو پېښو د برملا کولو لپاره او درې نورې يې د نوي خلافت د بيا راتگ د برملا کولو لپاره جوړې کړې وې.

**څلورم:** ټوني بلېر د بريتانيا لومړي وزير د ۲۰۰۵م، د اوومې مياشتې په شپاړسمه وويل: موږ له هغه حرکت سره مخالف يو، چې غواړي د اسرايلو دولت له منځه يوسي، غرب له اسلامي خارو څخه وباسي او يوازې يو اسلامي دولت جوړ کړي او دغه دولت به په اسلامي نړۍ کې د خلافت په وسيله شريعت پلی کړي. همدارنگه نوموړي د ۲۰۰۵م، په سپټمبر مياشت کې وويل: اوس له عراق څخه زموږ د ځواکونو  ايستل مناسب کار نه دی، ځکه ښايي په منځني ختيځ کې اسلامي خلافت تاسيس شي.

**پنځم:** چارلېس کلرک د بريتانيا د کورنيو چارو وزير د ۲۰۰۵م، د اکتوبر په شپږمه يو پخواني انستيتيوت ته په خبرو کې وويل: نور به دلته د اسلامي خلافت د بيا راتگ په بحث خبرې نه کوو، لکه څنگه چې د اسلامي

شریعت د تطبیق په اړه خبرو ته اړتیا نشته، په همدې توګه د خلافت د بیا تاسیس پر سر هم بحث ته اړتیا نه لیدل کېږي.

**شپږم:** جیورج بوش د ۲۰۰۵م، د نومبر په ۸مه په ولسمشرۍ ماڼۍ کې خلکو ته وویل: زه باور لرم چې که دوی یوازې د یو دولت د نظامي ځواک قدرت تر لاسه کړي، دوی به د اسلام پر پوره تطبیق باندې پیل وکړي. وروسته دوی کولای شي چې له سیمې څخه ټول میانه رو دولتونه پاک کړي او بیا کولای شي چې بنیادي اسلامي دولت یا امپراتوري رامنځ ته کړي او پراخوالی به یې له فرانسې څخه تر اندونیزیا پورې ورسېږي.

**اووم:** ډونالډ رمسفیلډ د امریکا د دفاع وزارت سکرتر د ۲۰۰۵م، د ډسمبر په ۵مه د جوهان هاپکېنز په پوهنتون کې زده کوونکو ته د عراق د راتلونکي وضعیت په اړه معلومات ورکول، نوموړي وویل: عراق به د راتلونکي اسلامي دولت (خلافت) د راتلو د پیل ځای وي. وروسته به دوی په منځني ختیځ باندې د واکمنېدو لپاره حرکت راوکړي او په اروپا، افریقا او اسیا کې به دا مشروع دولتونه له لوی ګواښ سره مخ کړي. دا د دوی پلان دی او دوی به دغه په ښکاره سره اعلان کړي. که چېرته موږ دغه لوبه وبایلو نو موږ به لویه غلطي کړې وي او که دا زده نه کړو، چې څنګه یو بل ته غوږ ونیسو او څنګه یو له بل څخه زده کړو.

**اتم:** کارل وییک امریکایي څېړونکي د ۲۰۰٦م، د جنوري په ۱۴مه واشنګټن پوسټ ته په یوه اوږده راپور کې وویل: د اسلامي دولت (خلافت) بیا تاسیس د مسلمانانو تر منځ د بحث لومړۍ موضوع ګرځېدلې ده، چې د امریکا ولسمشر بوش هم خپل مخالفت ورسره څرګند کړ. نوموړي دېته اشاره وکړه چې حزب التحریر په بېلابېلو هېوادونو کې د دغه موخې (خلافت) د بیا تاسیس لپاره هڅې کوي.

**نهم:** ډاکټر القادیدي په تانزانیا کې بهرنی وګړی دی. په  ۲۰۰۵م کال د مې په ۱۷مه یې قطر کې یوې ورځپاڼې ته یوه مقاله لیکلې وه، چې عنوان یې (امریکایي عالمان ګومان کوي چې تر ۲۰۲۰م کال پورې به خلافت تاسیس شي) و. د یاد راپور په ۸۳مه پاڼه کې راغلي: په راتلونکو څو ورځو کې به د رابرټ لافون له خوا یو راپور نشر شي او عنوان به یې دا وي: (امریکایي استخباراتي چارواکي تر ۲۰۲۰م کال پورې راتلونکې څنګه ارزوي؟) نوموړي زیاته کړه، چې تر ۲۰۲۰م، پورې به سیاسي اسلام په ډېره پراخه او نړیواله کچه تاسیس شي. موږ ګومان کوو، چې اسلامي نژادي او وطنپرسته حرکتونه به سره یو  شي او داسې یو دولت به رامنځ ته کړي چې ملي سرحدونه به له منځه یوسي.

**لسم:** په اشغال شوي عراق کې د بین المللي ایتلاف مشر، ریچارډ مېیر وویل: د متحده ایالتونو پر وړاندې په نړیواله کچه د رادیکال اسلام خطر دی، ځکه دوی غواړي اسلامي خلافت تاسیس کړي او دوی په اوو هېوادونو

کې شته دي. دغه راډیکالېزم په سیمه کې د عراق په پرتله ډېر پیاوړی هم دی. په هر حال همدارنګه دوی په عراق کې هم هڅې کوي او په عراق کې د امریکا پر وړاندې په فزیکي ډول غواړي جنګیالي راپورته کړي.

**یوولسم:** د فرانسې ولسمشر نیکولاس سرکوزي د ۲۰۰۷م، د اګیسټ په ۲۴مه وویل: دوی دغه احساسات نه لري چې په دولتي ادارو کې کار وکړي. دغه ټکر د افراط ګرایي ډلو لکه القاعدې کار دی، دوی پلان لري چې له اندویزیا څخه تر نایجیریا پورې یو واحد دولت (خلافت) تاسیس کړي او اوسنۍ ټولې ازادي ګانې او نوښتونه له منځه یوسي او پر ځای یې خپل فکر حاکم کړي. که د دوی ځواکونه خپلو دغو ناوړه موخو ته ورسېدل نو له شک پرته به ۲۱مه پېړۍ د تېرې پېړۍ په پرتله ډېره له ستونزو ډکه وي، ځکه چې د دوی له سختو ایدیولوژیکي هڅو څخه په ډاګه معلومېږي.

**دوولسم:** نعمان حنیف د ۲۰۰٦م کال د جنوري په ۳۱مه د مېډیا مانیټور په وېب سایټ کې یوه مقاله خپره کړه، نوموړي په خپله مقاله کې د غرب او اسلام تر منځ د موخو او نظریو د قاطعیت په هکله خپل تشویش وړاندې کړی و. د نوموړي په خبره دغه جوش به یوې پایلې ته ورسېږي، غرب پرته له دې چې اسلامي خلافت ته تسلیم نشي بل انتخاب نه لري. همدارنګه په مقاله کې راغلي وو، چې اسلامي خلافت د نړیوال سیستم لپاره یو لوی ګواښ دی. نوموړي زیاته کړې وه چې په بنیادي اسلامي حرکتونو کې د اسلامي خلافت د بیا تاسیس عقیده ډېره پیاوړې ده چې دغه عقیده د غرب د فردګرایۍ د مفکورې لپاره یو لوی ګواښ دی. ښایي د اسلامي حرکتونو تر منځ د خلافت د بیا تاسیس په اړه د دوی د سرچینو (قرآن او اسلامي تاریخ) تر منځ اختلاف موجود وي چې د خلافت بیا تاسیس لپاره جهاد وکړي که اصلاح راولي یا هم سیاسي فعالیتونه وکړي. له دغو ټولو اختلافونو سره سره بیا هم د دغو حرکتونو موخه یوه ده چې هغه د اسلامي دولت (خلافت) بیا تاسیس دی.

**دیارلسم:** د سپینې ماڼۍ دولتي وېب سایټ په ۲۰۰٦م، کې د جیورج بوش خبرې خپرې کړې وې، نوموړي ویلي و، چې بنیادګرایان غواړي د خلافت په نوم اسلامي دولت حاکم کړي. بیا غواړي چې د دغه دولت په واسطه خپله ایدیولوژي له اندونیزیا څخه تر هسپانیا پورې ورسوي.

**څوارلسم:** ډونالډ رمسفېلډ د امریکا د دفاع وزارت سکرتر د خپلې خدای پامانۍ په وخت کې وویل: دوی غواړي چې میانه رو اسلامي دولتونه او حاکمان یې له منځه یوسي او پرځای یې اسلامي دولت (خلافت) بیا تاسیس کړي.

**پنځلسم:** نوح فېلډمن د هاروارډ پوهنتون قانونپوه په ۲۰۰۸م، کې یو کتاب چې نوم یې(د اسلامي دولت نړېدل او بیا تاسیس) و چاپ کړ. نوموړي تایید کړه چې د اسلامي قانون حاکمیت یو ځل بیا حتمي دی، که څه هم مخکې نړول شوی دی؛ خو اوس بیا هم کولای شي چې اسلامي خلافت یې رهبري کړي.

**#أقيموا_الخلافة**

**#ReturnTheKhilafah**

**خلافت تاسیس کړئ**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: فردوس سلیم زاده**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د رجب ۷مه**

**۲۰۲۱م، د فبروري ۱۹مه**